DAILY
# اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۱۳۸
شماره مسلسل ۱۰۰۵
دوشنبه ۸ جوزا ۱۳۸۵ هـ ش
۳۰ ربیع الثانی ۱۴۲۷ هـ ق
29 May, 2006

## د ولسي جرګې پرونۍ غونډه د امنیتي مسایلو لپاره ځانګړې ټوې وه



د ولسي جرګې د یکشنبې د ورځې ناسته د هیواد امنیتي وضع د خیرنو لپاره ځانګړې شوې وه. د ولسي جرګې ډیر شمیر وکیلان پدې باور وو چې په هیواد کې د نا امنیو بو لامل د پاکستان لاس وهنه ګڼل کیږي. له اوږو خبرو اترو وروسته بیا هم ولسي جرګه پدې بریالی نشوه چې د نوموړې موضوع د حل لپاره لاره پیدا کړي.

دا خو څل دی چې د ولسي جرګې استازي د امنیت په اړه خبرې اتري کوي. د ولسي جرګې ډیر شمیر استازي پاکستان پدې تورن کړ چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنه کوي، خو پاکستان تل دا ډول نیوکې رد کړې.

د ولسي جرګې ډیر شمیر استازي پدې باور دی چې د هیواد سهیلي ګاونډي د ترهګرو ملاتړ کوي ۴ مخ

## علي احمد جلالي: ولسمشر کرزی د پاوړي سیاسي تیم له مرستې بې برخې دی

د کورنیو چارو پخواني وزیر علي احمد جلالي د واشنګټن پوسټ له ورځپاڼې سره په یوې خانګړې مرکې کې ویلي په هیواد کې د نا آرامیو لامل له روانو حالاتو څخه د دولت کمزورې ځار یا کنټرول بلل شوی دی.

د کورنیو چارو پخواني وزیر علي احمد جلالي چې کابو دوه کاله یې د ولس مشر حامد کرزی د واکمنۍ پر مهال د کورنیو چارو وزارت چارې پرمخ وړلې د واشنګټن پوسټ له ورځپاڼې سره په یوې خانګړې مرکه کې ویلي په هیواد کې د نا ارامیو لاملونه د مخدره توکو د قاچاق وړونکو او ترهګرو ترمنځ د اړیکو لاتینګیدل په دولتي ادارو کې د یو شمیر فاسدو کسانو موجودیت، بې وزلي او بلاخره په هیواد کې له روانو حالاتو څخه د دولت کمزورې ځار یا کنټرول دی. د جلالي په آند یاد شوي ستونزې د ددې لامل ګرځیدلي چې ترهګرو د هیواد پولې د خپلو فعالیتونو لپاره په ډاډمنو او خوندي سیمو بدلې کړي. ۴مخ

## سرمقاله

### وضع دشوار امنیتی و بحران اعتماد ملیشه سازی را فعجین می کند

امنیت، با ملیشه تأمین شده نمیتواند، با آنکه تأمین امنیت در افغانستان برای کشور و مردم ما و بخصوص برای نیروهای ائتلاف بین المللی و نیروهای آیساف مهمترین اولویت بوده، ولی آنانیکه در کشور ما پالیسی ساز امنیت بوده اند، با تأسف که تخمینات شان بی نتیجه و بی ثمر، از پرده بیرون افتاده است.

در کشور ما که مردم طی چار سال گذشته از محراق توجه حکومت ها بیرون بوده اند و مسوولین این حکومتها کوچکترین التفاتی را برای بهبود زندگی مردم، از جمله، ایجاد کار و پیاده کردن قانون و تلاش برای فقر زدایی و رفاه همگانی انجام نداده اند، در تأمین امنیت در کشور نیز پیروزی نداشته اند.

طوریکه میدانیم جامعهء بین المللی برای ما در مدافعه از کشور تعداد محدودی از نیروهای پولیس و اردوی ملی را به وجود آورده اند، که اگر با تعمق دیده شود، حقایق زیادی از نظر شان بدور مانده است.

پرسشی را که میتوان مطرح کرد اینست که چرا حکومت ستراتیژی دقیق و روشنی از وضع بی ثبات کشور برای جامعهء بین المللی ارایه نداده است، و چرا ولایات کشور با وجود نیروهای ائتلاف و آیساف و ناتو در حال بی ثباتی وسقوط قرار گرفته است؟

آنانیکه این سفارش غیر قابل اعتماد بودن افراد مسلکی و صرف نظر کردن از مکلفیت عسکری را به منصهء اجراء گذاشته بودند و سفارش آنرا به جامعهء بین المللی و نیروهای ائتلاف و آیساف داده اند، اشتباه بزرگی را مرتکب شده اند و اکنون اثرات اشتباه شانرا بخوبی لمس می کنند. شاید بتوان گفت که همان عناصر و افراد، همین حالا مشورهء ملیشه سازی را پیشکش کرده و به آن جامهء عمل می پوشانند،

سیاست ملیشه سازی از آنجا منشأ میگیرد که مافیای مواد مخدر با مخالفان دولت همدستی می کنند، و مردم محل را نیز علیه سیاستهای دولت بر می انگیزند. آیا میتوان پذیرفت که چرا مسوولین محلی ولایات در تبانی با مخالفان و مافیای مواد مخدر پیشنهاد ملیشه سازی را با شدت تأیید و پشتیبانی می کنند؟

با تأسف که مسوولین حکومت همواره در گزینش و گماشتن مسوولین ولایات جبهات خاص و مصلحتهای معین سلیقهء شانرا در نظر گرفته اند، وبا در نهایت به فشار های جانبی سر تسلیم فرود آورده اند و نه منافع ملت افغانستان را در غیر آن وضعیتی که در کشور در حال انکشاف است و در نتیجه گروه های ملیشه بر ولایات و سرحدات کشور مسلط میشوند، هر گز امنیت لازم را برای کشور به ارمغان نخواهد آورد.

زیرا ملیشه ها به زودی در تبانی با مخالفان دولت و در زیر سایهء لرزان مسوولین ولایات که هم با دولت و هم با مخالف دولت تار خواهند داشت، امنیت و ثبات کشور را هنوز هم در معرض خطر شکنندگی و آسیب پذیری قرار خواهند داد.

اکنون دیده شود که برای جبران اشتباهات دیروز، چگونه اشتباه دیگری به کرسی می نشیند و عملی میشود؟

وضعیت نا به سامان کشور چنانست که میان مردم و مسوولین دولت به دلایل فراوان بی اعتمادی و فاصله ایجاد شده است.

مردم از موسسات دولتی رضایت ندارند، کار کرد ادارات جز حق تلفی و بی قانونی، نتیجه یی برای مردم نداشته و ندارد.

فساد ریشه داری که دولت را از درون در حال به انفجار کشانیدن است، به شدت ادامه دارد و دولت هر گز جلو آنرا نگرفته است، ص۴

## قتل سه پولیس افغان در هلمند

نیروهای امنیتی از یافتن اجساد سه پولیس در ولسوالی باغران ولایت هلمند خبر می دهند که به گفته مقام های امنیتی هدف فیر مرمی قرار گرفته اند.

محی الدین، سخنگوی والی هلمند گفت که این سه پولیس یک روز پیش در ولسوالی کجکی این ولایت از سوی افراد مسلح ربوده شده بودند. آقای محی الدین گروه طالبان را مسئول این حادثه خواند. ولایت هلمند ظرف هفته های اخیر از نا آرام ترین مناطق بوده است. بر اساس برخی گزارشها درگیری های سنگین در این ولایت و ولایت همجوار قندهار، از حدود ده روز گذشته، بیش از ۲۰۰ کشته برجا گذاشته که بیشتر آن شورشیان مظنون وابسته به طالبان بوده اند.در همین حال مسئولان پولیس شاهراه در غرب کشور می گویند که یک تصادف جاده ای در مسیر شاهراه هرات بادغیس منجر به کشته شدن سه پولیس افغان و جراحت پنج تن دیگر شده است. محمد شفیق، یک مسئول پولیس شاهراه در حوزه غرب گفت که این حادثه در منطقه چک آب ولایت فراه روی داده است. او گفت مجروحان این حادثه به یک شفاخانه در هرات منتقل شده اند.

## رهبران ارشد طالبان در افغانستان کشته شد

قوای نظامی ایالات متحده می گوید که قوای ائتلاف در جریان یک حمله بر یک کمپ تربیوی طالبان در جنوب کشور،پنج تندرو بشمول یک تعداد رهبران ارشد طالبان را به قتل رسانیدند.

قوای نظامی امریکا با نشر بیانیهء گفت که این حمله در ساعات ناوقت روز جمعه در یک منطقه دورافتادهٔ ولایت هلمند در نزدیک سرحد با پاکستان صورت گرفت. بیانیه تندروان کشته شده را معرفی نکرد اما گفت که این افراد در جمله اشخاصی بودند که حملاتی را بالای قوای ائتلاف وافراد ملکی انجام میدادند ص۴

## په ننګرهار کې د ښوونځي د بنسټ ډبره کیښودل شوه

د ننګرهار ولایت د بهسودو په ولسوالي کې پرون د یو ښوونځي د ودانۍ د بنسټ ډبره کیښودل شوه. دغه ښوونځی د سل زرو امریکایي ډالرو په لګښت جوړیږي چې ۸۰ زره یې د سویدن د موسسې او شل زره یې د سیمې د خلکو له خوا ورکول کیږي، ۴مخ

## د ډوبي خواکونو او طالب جګړه یې په بنسټ کې

د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د ماموروال په سیمه کې پرون له غرمې وړاندې د دولتي خواکونو او شکمنو طالب جنګیالیو تر منځه وسله وال نښته شوې چې له امله یې یو پولیس او درې طالب وژل شوي دي.

په نوموړي ولایت کې یو امنیتي چارواکي چې نه غوښتل نومې یې واخیستل شي وویل په دغه نښته کې ۷ پولیس هم ټپیان شوي دي.

د یو بل خبر له مخې د غزني ولایت د آب بند په ولسوالۍ کې تیره ورځ د یو ماین د چاودنې له امله لږ تر لږه درې تنه ټپیان شوي او یو موټر ته زیان اوښتی دی.

## ماین هنوز هم قربانی میگیرد

در انفجار یک ماین در ولسوالی تاله و برفک ولایت بغلان یک کودک کشته شد و دو کودک دیگر جراحت برداشتند. قوماندان پولیس ولایت بغلان میگوید که این رویداد دیروز هنگام در مرکز این ولسوالی رخ داد که سه کودک مصروف چوپانی بودند.

جنرال میر علم قوماندان پولیس ولایت بغلان میگوید که این ماین از سوی مخالفان دولت درین منطقه جا سازی نشده بود، بلکه از زمان اشغال افغانستان توسط قشون سرخ شوروی سابق و جنگ های پس از خروج این قوا درین محل باقی مانده بود. وی افزود که این ساحه و ساحات بیشتر دیگر درین ولایات وجود دارند که تا کنون از وجود ماین ها پاک سازی نشده اند او علاوه نمود که باید نهادهای ماین پاکی هرچه سریعتر وارد اقدام شوند در غیر آن حیات بیشتر از مردم در آن ولایت با خطر مرگ رو برو است. ص۴

## نبود معاش و افزایش نا امنی در هلمند

معلمین مکاتب و لیسه های عالی ولایت هلمند از نبود معاش و افزایش نا امنی ها در آن ولایت شکایت دارند.

آنان میگویند که مدت چند ماه میشود که معاش شان پرداخته نشده است، و نا امنی ها نیز با گذشت زمان افزایش می یابد این معلمین میگویند مقامات مسوول در مورد حل مشکلات شان توجه ندارند و به وعده های شان عمل نمی کنند.

این معلمین میگویند مشکل اصلی در آن ولایت نبود امنیت است که با گذشت زمان بیشتر میگردد. مسوولان تعلیم و تربیه آن ولایت مشکلات معلمین را رد نکردند، اما میگویند که این مشکلات را با مسولان تعلیم و تربیه در مرکز در میان گذاشته اند.

گفتنی است که ولایت هلمند از جمله ولایت های نا آرام است که چندین بار معلمین مورد حمله مخالفان قرار گرفتند و کشته شده اند و هم چنان چند مکتب نیز به آتش کشیده شده است.

## د پاکستان کور بار به تر کله پر مخ ځي؟
۲مخ

## اوسنی افغانستان او پانګه اچول
۳مخ

# دپاکستان کورې بار به ترکله پر مخ ځي؟

هدایت الله هدایت

نن که زمورې په افغاني خورمنه او زخمي ټولنه کې، ددې ټولني د هر اوسېدونکي نه چې وپوښتې چې زمورې دهېواد د بدبختۍ او په دې سیمه کې د کړکېچ او بحران اصلي او لوی عامل څه او څوک دی او مورې ته دا په وینو لړلې او دا خوره او ترټلې ورځ چا راپېښه کړېده ،زمورې مکتبونه، زمورې پلونه، زمورې عالمان زمورې تنکي ځوانان ، زمورې د علم او پوهې مخکښان زمورې په څه پوهه افغانان ، زمورې زامن او پلرونه څوک را وژني ، ددې وطن اوبه څوک خړوي ،نو بېله دېنه چې څوک ځان په کومه سیمه او تېر کوم فکر او مکتب خاوند پورې وترې، بېله دېنه چې ځان په کوم ګوند یا جهادي ډلوپلو پورې وترې، بېله دېنه چې ځان پر هغه یا دغه باندې وموښلوي نو د یوه غمځپلې او په زړه زخمي افغان په ځیر به سمدستي د ګاونډي آشنا نوم، یعنی د پاکستان نوم به در ته واخلي او ورپسې ، د هغوی دجنایاتو د لړیو نه به یې درته را شروع کړي، او دهغوی داستخباراتو د آې ایس آې د خالي د کړو عملنامې به دي و مخې ته کښېږدي نن که په دوست هېواد هندوستان کې چې و پوښتې، چې د هند دسوکالۍ او امن تر ټولو ناوړه دښمن څوک دی نو هغوی به و وایې چې پاکستان همارا سب سې برا دشمن هې!

نن که په لندن کې، که په شرم الشیخ کې، که دلته یا هلته اود نړۍ په ډېرو نورو ځایو کې چې د تروریستي کړو تر شا پل را واخیستل شي نو ضرور به د پاکستاني تروریستانو لاس او د هغوی د استخباراتي اداړې دخل به یکې ثابت ، لاسونه به یې ککړ او پښې به یې یکې اخښلي وي

نن که پخپله په خپل سر جوړشوی هېواد پاکستان په دننه کې د هر پښتون نه ،د هر بلوڅ نه د هر سیندهي، د هر سني نه، د هر شیعه نه، د هر عیسایې او دهر خوار او عادي شخص نه و پوښتې چې ددې هېواد د بې ثباتۍ او پرله پسې پوڅې حکومتونو واکدارۍ ته د رسېدو او د جنرالانو دډیکټاتورۍ د کړې علتونه څه دي او دا مارشالاوي د څه دپاره دي، نو ټول به په یوه خوله او یوه ږغ داخبره راپورته کړې چې داظالم او خونخواره پنجابي او جرنیلان دي چې ددې سیمې د خلکو بنیادي حقونه یې د پردو د نقشو د پلي کولو په خاطر تر پښو لاندې کړي او ددې سیمو د هېوادو طبیعي زیرمو ته د غږېدو او لوټېدو دپاره یې د ولسونو پر طبیعي حقونو سترګې پټې کړي او پوڅې مارشالاوي یې یو په بل پسې میدان ته را ایستلي دي، خلك او ولسونه یې ور باندې خوار کړي او خپلي دي

هو دغه دپردو په لاس دپاکستان په نامه هېواد نن په سیمه کې د شر اچوني، فتنې او ددوه مخې په سمبول بدل شوی دی ددې هېواد پوڅې جرنیلان داسلام تر پردې لاندې د اسلام په نامه یې د واقعي شیطنت او دوه مخې اصلي څهره بهرنۍ نړۍ ته ښودلې ده او د پردو په لاندې کړي خاوره کې یې ځان ګاونډیو هېوادونو ته د بلا او په ټولې نړۍ کې دتروریستانو او ترهګرۍ د روزنې او د هغوی دکړو وړو په تربیوي اډو او اتومي ځاله بدله کړې اوددې سیمې په بدماش باندې یې ځان اړولی دی

نن چې د پاکستان دروند پوڅې طاقت او د هغه سره جوخت اتومي ځواک ته او دا چې دغه اتومي د قاچاقي بټیو بزنس یې هم ډېرو نورو هېوادو ته لاره غزولې ده که څوک ښه ځیر شي نو تر پخوا به څو ځله زیات دا وېره را بر سیره شي چې ددې هېواد په پوڅ او ددې هېواد داستخباراتي اداړې په ترکیب کې یې په القاعدې پورې تړلو بنسټپاله ترهګرو کړیو ځای ټولی او په سیمه کې یې سولې او ثبات ته واقعي خطره را مینځته کړېده نو ددې سیمې دسولې د پروسې راتلونکې او لیرلید به څه شاني شکل نیسي ؟ ددې خبرې یادونه ځکه ضروری ده چې دا دري لسیزې کیږي چې ددې ټولو تروریستي فعالیتونو لومړنۍ تربیوي او روزنیز مرکزونه او ځالی په همدې پاکستان کې فعال شوي دي او دوسله والې شراچوني جونګړې یې همدلته په پاکستان کې فعاله ،په کار لګیا کړي دي او اوس هم ترښکاره پردې ترشا همدا کارونه تر سره کوي او وروسته یې بیا زمورې خورمن هېواد افغانستان او خپل بل ګاونډ هېواد هند ته یې لیږي او چې بیا لاربښوونه ورته وشي نو بیا یې د نړۍ هر ګوټ ته هم استوي

دغه هېواد اوس هم لکه پرون خو په ټوپ ټنه په ښکاره دتروریستي عملیاتو دروزنې مرکز پاتي شوی دی اوس چې دسیمې د حالاتو مسیر د پاکستان د پوڅې واکمنانو د مزاج پر خلاف حرکت کوي نو دغه تروریستي ډلې په ظاهره پر شا کیږي ولي د پردې تر شا بیا بیرته دنورو ډلو سره په یوځای کېدو او په نوي نومو سره د ترهګرۍ د تر سره کولو دپاره بیرته په نوي بڼه سازماندهي کیږي او تازه ماموریتونه ځانونه آماده کوي دا کارونه په داګه زمورې په هېواد کې دمېشته ایتلافي ځواکونو په سترګو کې چې په ظاهره دترهګرې سره د مبارزې په نامه پراته دي، که خاوري اچول نه وي نوبل څه به وي؟

پاکستاني واکداران په دا شاني مداري ګریو سره داسي کارنامې تر سره کوي چې دغه یا هغه بنسټپاله ډلې چې د ترهګري شک ور باندې راځي نو هغه په ډېر مهارت سره منحله وي او وروسته بیا ډېر لوړ تبلیغات ور باندې شروع کوي، پیسې او وسلې ور باندې تر لاسه کوي، خو سمدلاسه بیا په هغوی نوې جامې اغوندي او پر ځای یې نوي ډلې بیرته سمبالوي او په پای کې هماغه آش او هماغه کاسه ځینې جوړیږي پاکستاني واکداران په داشاني شیطنت سره غواړي په ظاهره هم کورنۍ لاتجه سپکه وښیې او پر هغه باندې خپل کنټرول مضبوط وساتي او هم د ائتلافي ځواکونو نه لار او ګودر ورک کړي!

ددې ټولو شیطاني کړو وړو سره سره پاکستان خو به زمورې او نورو هېوادو ته لاتجې زېړوي او زمورې خلکو ته به هم مرګ ژوبله را لیږي خو د پاکستان کورنۍ حالت هم پخپله داشاني دی چې د چړې پر سر باندې روان دی ان پخپله جنرال مشرف اوس د داسي یوې وضعي سره مخامخ دی چې پخپله د پوڅي جمهور رئیس په توګه لا نه شي کولاې د هېواد په دننه کې د اصلي ستونزو اټکل وکړي او یا په ظاهره دیوه کارګشته سیاسي لاربښود په توګه هغوی ته د سیاسي حل یوه لاره پیدا کړي ډهغه لړ زانده راتلونکي سیاستونه بس دورځنیو پېښو پر مبناټاکل کیږي او وراندې او شاته تګ یې یواځې د پېښو بهره د عکس العمل پر اساس شکل نیسي

پاکستان اوس په داسي موقعیت کې قرار لري چې د واقعي اوږد مهاله بدلونونو اټکل نشي کولاې او په اصطلاح خپله ورځ تیروي.

ددې نه علا وه د ډېر پخوا نه لازیاتو کارپوهانو عقیده څرګنده کړې وه چې د پاکستان کورنۍ بې ثباته حالت چې دخپل پنځوس کلن پاینښت په دوره کې یې په مارشالا ساتلې او تر زیندی لاندې یې راوستلی و، همدارنګه یې د سیاسي روغې جوړې پروسه هم تل د نفاق واچوه او حکومت وکړه د فارمول په پلي کولو سره مخې ته بهولی ده، او ددې هېواد پوڅي واکدارانو په دې هېواد کې د لنډ مهال موجودیت نه بیا تر اوسه پوري د همدې فارمولانه ګټه پورته کړې او پرده یې ور باندې غوړه ولبده په دې بهیر کې د پاکستان سیاسي او مذهبي ګوندونه او کړیو خو ددولت پر سیاستونو ګوته نیسي خو پر پوڅي واکدارۍ باندې د ضربې توان نلري. ډېر په دې باور دي چې که پر جنرال مشرف باندې ددې هېواد د پوڅې کړېولخوا یعني د پوڅ په دننه کې د پوڅیانو له خوا پاڅون او برید وشي نو دهغه تانګ به ور سست اوملا به یې ورماته کړي. سیاسي کتونکي اوس دا خبره نه پټوي چې د ترهګرۍ پر ضد مبارزه کې د پاکستاني د جرنیلانود دا شاني د تل په شاني دوه مخیزه شیطنت که پخوا یې کوم تأثیر ښوده نو اوس خویې موتې خلاص او دا لوبه به نور خریدار نشي در لودلای. که پاکستان داسي دوه مخې ته نور هم دوام ورکړي او لاره ورته خلاصه پرېږدي نو ددې سیمې په دې سوې او ثبات د ټینګېدو او پروسې ته زیان ورسوي او دا لاره به اوږده کړي، نو په پای کې به د پاکستان سر هم په قطعي توګه و خوري او ددې هېواد د بقا مزي به سره و شلوي

د سیمې په هیوادوکې چې د ولسونو لخوا د سولې او ثبات لپاره کوم نوی بهیر را روان دی، په دې کې پاکستان نور نشي کولاې په داسي بېشرمه لاسوهنو سره په پروني میتود باندې خپل دنفرت او وحشت دوه مخي او دري مخي ځیره پټه کړي. زمورې دهېواد او دسیمې د ثبات د ځورونې د غه دفساد نه ډکه اډه چې په پاکستان کې فعاله ده هغه نابوده کړي او خپله نړۍ واله آبرو دي چې اوس داده پر مخکه لوبدلې ده، دسره وژغوري د پاکستان دغه کوږ بار په دې سیمه کې دغه دسولې په لاره کې ستر خنډ ، بلل کیږي ددې هیواد مظلوم ولس ددې پنجابي ترهګرو او بنسټپاله جرنیلانو د عذابه خلاص او ددې سیمې امن اوثبات دي و عادي مسیر ته راوګرزول شي پاکستان ترابده نشي کولای دغه دنفرت او شیطنت کوږ بار پرمخ بوزی داځکه چه کوږ بار تر مزله نه رسی.

## لیدنه یه گالله

# بې اعتمادی ، میان مردم وحکومت خط فاصل میکشد

میرعبالصمد مروج

کاندید وزارت مخابرات با سابقه کاری وزارت مدعی است صدها هزار تیلفون همراه درکشور وجود دارد وتیلفون های ثابت دیجیتال به بیش از ۱۵۰ هزار افزایش یافته، شکی نیست تیلفون های همراه تسهیلاتی را بوجود آورده وقسمتی از مشکلات مخابراتی مردم را رفع نموده است، اما جناب وزیر مخابرات برای بهبود کیفیت تیلفون های همراه وکاهش قیمت مکالمات خارجی وداخلی چی اقدامی کرده اند، کیفیت تیلفون های همراه درحدی پائین وناقص است که اغلب مشتریان برای شوخی و تمسخر دو یا سه گوشی تیلفون را کنارهم میگذارند از هر دو شبکه موجود یکی از شماره ها را دایر میکند جواب چست (شماره مورد نظر فعلاً دردسترس نیست به خارج از ساحه سفرکرده، پیام صوتی بگذارید وبدون مصرف اضافی تیلفون را قطع کنید) عدهء علت بی کیفیت بودن خدمات تیلفون همراه را افزایش بی حد توزیع تیلفون همراه خارج از ظرفیت شبکه ها میدانند که صاحبان شبکه با وزارت مخابرات قرار داد کرده اند وبابت آن مالیه میدهند وهر قدر شماره که خارج از ظرفیت شبکه توزیع شده از محصول ومالیه معاف وبهمین علت کیفیت خراب میباشد که پول زیادی ازین ناحیه بخصوص درهنگام تماس بخارج کشور تلف تا سرانجام ارتباط بخارج با قیمت بالای مکالمات برقرار شود.

مکالمات تیلفون های همراه درافغانستان چی داخلی وچی خارجی درمقایسه با قیمت مکالمه تیلفون های همراه کشورهای همسایه دو تاسه برابر میباشد اینکه میگویند شبکه روشن هر ماه یک یا دو دالر را میبلعد بحث جداگانه میباشد، چون کمپنی های مخابراتی خارجی هدف شان حصول سود ومنفعت هرچی بیشتر میباشد وکشور بی سروصاحب افغانستان بهترین مامن ومرجعی برای برآورده شدن این هدف شان خواهد بود وبهمین علت است که برای کسب سود عایدات بیشتر بهر وسیله ممکن روی می آورند وازجمله تطمیع مسوولین مخابراتی واین باعث شده انتقاد مردم بالای وزارت مخابرات افزایش یابد وشایع است که کمپنی های خارجی بعلاوه اینکه درزمان قرار داد با وزیر وقت مخابرات معامله پنهانی داشتند فعلاً هم با مسوولان وزارت مخابرات معاملات پنهانی برای تداوم فعالیت بی کیفیت با هزینه بالای مکالمات را دارند وحتی بی اعتنایی مسوولان امور مخابراتی جهت حفظ و حراست از دستگاه های دیجیتل تیلفون های ثابت که هر خط آن در بدل ۳۵۰ دالر وچی اندازه رشوه فروخته شده ودربرخی مناطق غیر قابل استفاده میباشد ونیز تقاضای دوصد دالر برای آزاد نمودن کود خارج کشور را دلیلی برهمکاری وزارت مخابرات با کمپنی های مذکور میدانند، چی اگر این تیلفون ها فعال وکود خارجی آن باز باشد دارنده گان تیلفون های ثابت جز در موارد اضطراری و عدم دسترسی به تیلفون ثابت از تیلفون های همراه استفاده نخواهند کرد وبنابر گذارشات رسمی قرار است تا سال آینده شرکت مخابرات دولتی هم به حراج گذاشته شود وبه خارجیان داده شود.

کاندید وزارت زراعت ترویج شیوه های جدید زراعتی، بهبود سیستم زراعتی، ایجاد فارمهای زراعتی را دست آوردهای وزارت ودوره کاری خود میداند ولی ازین نمیگوید درین کشور که بنیاد آن زراعتی میباشد فعلاً بیشتر مواد غذایی ازجمله گندم، برنج، حبوبات، سبزیجات، میوه جات وحتی شلغم ومرچ هم از خارج وارد میشود، جناب کاندید وزیر درین یکسال و ادارهء آقای کرزی درین چهار سال برای توسعه وانکشاف زراعت چی اقدامات موثری که ملموس وموثر باشد انجام داده اند ده ها هزار جریب زمین دولتی، چراگاه ها، فارمهای زراعتی غصب شده که اکثر دفاتر املاک که مربوط وزارت زراعت میباشد با غاصبان همکاری کرده اند.

ادامه دارد

# اوسنی افغانستان او پانګه اچول

داکتر ګاګا جان سهار

د نړۍ په اوسني بازاري سیستم کې پانګوالي په دوه ډوله جلا کولای شو :

اول سالمه پانګوالي:

دا هغه پانګوالي ده چې پانګوال یا د خپلو اصولو او یاهم د واکمنو شرایطو له مخې د اچول شوې پانګې د مقدار ، د تولیداتو د کیفیت او خپلو ګټو ترمنځ یو تعادل په پام کې لري معمولا دا ډول پانګوالي په هغو هیوادونو کې رواج لري چې د قوي حکومتي سیستمونو تر څنګ د دوامداره امن څخه برخه من وي، لکه غربي هیوادونه پدې ډول پانګوالی کې پانګوال دخپلوګټو ښه ځه ښنه برخه دخپلو تولیداتو پر کیفیت باندې خرڅوي، داځکه چې دا پانګوال د لږ ګټې په بدل کې د هغه د همېشه والي څخه ډاډه وي معمولا دا پانګوال خپل بخت په رقابتي مارکیټونو کې ازمویلو ته ږدي پدې ډول پانګوالی کې ولس څکه ډېر نه زیانمن کېږي چې ولس د لګول شویو پیسو په بدل کې باکیفیته اجناس تر لاسه کولای شي. دا پانګوال د حالاتو او شرایطو په تاکلو کې ډېر دقیق او بې تېروتنې وي او دافغانستان په شان خایونو کې په ډېره اسانۍ سره پانګونې ته زړه نه ښه کوي .

دوهم- نا سالمه پانګوالي:

په دې ډول پانګوالی کې د پانګې د مقدار، د تولیداتو د کیفیت او ګټې تر منځ هېڅ ډول رابطه په پام کې نه نیول کېږي. پانګوال کوښښ کوي چې د وړې پانګونې د تیټ کیفیته تولیداتو په بدل کې ډېره ګټه تر لاسه کړي، دا ډول پانګوالي زمونږ د هېواد په موجوده حالت کې په چټکتیا سره مخ په وړاندې خي دا څکه: چې له یوې خوا زمونږ په تولنه کې د پانګوالی تجربې د پوخوالي پولو ته نه دي رسېدلې. او له بلې خوا زمونږ د هېواد کمزورې دولتي واکمنۍ دمارکیټ دتولیداتو په کیفیت باندې د کنټرول جوګه نه ده .

د یوه هېواد لپاره نا سالمه پانګوالي د پانګوالی ډېر بدمرغه شکل دی چې د پانګوالو د تورو ګټو قربانیان ولسي خلک جوړوي. دا پانګوالي په غیر مستقیم ډول د قاچاقو سره دومره توپیر نه لري. پدې پانګوالی کې په لوړه کچې د یوه هېواد داخلي اسعار د بې کیفیته تولیداتو په بدل کې د پانګوال په غوښتنه له کوربه هېواد څخه بهر ته وزي. همدا علت دی چې په تېرو څو کلونو کې تردولتي اختلاسونو وروسته د نړیوالو مرستو له ګټو پیسو څخه زمونږ په هېواد کې د تولیدي پروژو د منځته راتلو لپاره اسعار نه دي پاته شوي. اومونږ دغټو نړیوالو مرستو سره بیا هم ددې جوګه شوي نه یو ددولت په چوکاټ کې حتی د ټوکرانو یوه تولیدي اقتصادي پروژه هم ولرو.

په هېواد کې دپانګې اچونې په اړه لاندې پوښتنې را پورته کیدلی شي؟

د پانګه اچونې لپاره عملاء خوندي والی پکار دی، که یوازې تشی وعدې کافي دي

پانګه اچوونکي هم باید د ټولنې او ولس لپاره په کومه ماده پر وبلل شي او که نه؟

د سالمې پانګونې یو مهم شرط د هغه خوندیوالی دی:

هر پانګه وال د خپلې پانګوالی لپاره خپل نورمونه او شرایط لري، چې امنیت او د پانګې خوندیوالی دهغو ټولو په سر کې دی. متاسفانه چې دا اصل زمونږ د ټولنې په موجوده شرایطو د یو څه شک سره مخامخ دی. نو په دا ډول شرایطو کې هغه پانګوال چې د خپلې سالمې پانګونې لپاره سوچې او ځانګړي اصول لري او د پانګوالی او ګټو تر منځ یو ټاکلی تعادل ته ژمن وي، ترټولو مهمه داچې د هیواد په اوسنیو شرایطو کې په مارکټ کې د اموالو د بیې او کیفیت تر منځ هېڅ ډول تناسب موجود نه دي.

خبره له کیفیت څخه راغله د بېلګې په توګه تاسو ولاړ شی دافغانستان مارکټ وګورئ، هلته به تاسو مارکټ د ډېر لاندې کیفیت لرونکو اموال څخه ډک ومومئ. تاسو په مارکټ کې په پراخه پیمانه ډېر داسې (حتی درملونه او خوراکي .....) توکي موندلای شی چې حتی د استعمال وخت یې ډېر پخوا تېر شوي وي. هغه داسې چې برسېره پر دې چې هیواد دټولې نړۍ د زړو موادو په وروستۍ هدیره بدل شوی نوځکه سوداګر د نړۍ له مخ څخه ټول مواد لکه دېرش کلن زاړه موټران، یخچالونه او نور زیاتره هغه اموال چې باید په کوربه هېوادونو کې نابود شي او کوربه هېوادونه باید د هغه په نابودی سره یو څه اندازه پیسې هم ولګوي، خو له بده مرغه د افغانستان د دولتي اداري له کمزورۍ څخه په استفادې نومونې اموال د نا چیزو پیسو په بدل کې د تجارانو له خوا افغانستان ته استول کېږي او هلته د خورا ښو تودو ګټود لاسته راوړلو په هیله بازار ته عرضه کېږي .

یاهم که د کابل بازار ته ولاړ شو او د کابل په بازار کې د مثال په توګه د برېښنا سامان الات لکه دري ساکټې چې ظاهراء ښه لس مټره ، پنډ او اوږد لین یا کېبل لري او په شمار شمېرلي د لسو پلکونو د ورکولو لپاره لس ساکټونه لري د کیفیت له مخې وګورو. وبه وینوچې یوازې د ټوکرانو د یوه وتو په دولتي چارواکو نه د یوځه بډو تر ورکولو وروسته په ډاډه زړه خپل بې کیفیته تولیدات بازار ته عرضه کړي .

دې هدف ته د رسېدو لپاره دافغانستان دموجوده دولتي واکمنۍ سراسیمه والی اوکمزورې بڼه پانګوالو ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د خپلو کښته او بې کیفیت خدمتونو په بدل کې لوړې ګټې تر لاسه کړي

۱) ځنې پانګوال کله کله د سبا روځې په مارکټ کې د ځای نیولو لپاره خپله لږه سرمایه په خطر کې ږدي

۲) هغه وخت چې پانګه وال د خپلې وړې سرمایې څخه د زیاتې ګټې په تر لاسه کولو ډاډه وي، تر څو په لږ وخت کې دوی د خپلې اصلي سرمایې معادل په لاس راوړلای شي. چې دا شرط اوس تر ډېرې اندازې پورې زمونږ په ټولنه کې دپانګوالو د هیلو سره سمون خوري.

ولې دا پانګوال څنګه کېدای شي چې د وړې پانګوالی په بدل کې د زیاتو عایداتو په لاسته راوړلو سره بریالي شي.

الف- چې د تولیداتو لپاره یې بل بازاري رقیب کم یا نه وي.

زمونږ ټولنه ریښتیا هم په یوه داسې حالت کې ده چې هلته تر اوسه بازاري رقیبانو دومره وده نه ده کړې، نو ځکه پانګوال کېدای شي د خپلې پانګوالی په بدل زمونږ د هیواد تاوده بازارونه د تودو ګټو تر لاسه کولولپاره یو مناسب فرصت وبولي .

ب- د تولیداتولپاره ګرمه تقاضا.

که څه هم زمونږ په ټولنه کې د مارکټنګ ټولو اړخونو د نورو هېوادونو په پرتله پوره وده نه ده مونډلې او په نړیوالو مارکټونو کې ډېر داسې اموال مونډل کېږي چې تر اوسه ورته په هیواد کې دومره اوچته تقاضا نشته خو بیا هم داچې د افغانستان خپل تولیدي محصولات په هېڅ حساب دي نو ځکه هلته د مارکټنګ په برخه کې د تقاضا ډېر پراخه امیدونه تر سترګو کېږي .

ج - د پیسو د لږ مصرف په نتیجه کې د بې کیفیته تولیداتو د عرضې امکانات.

پانګوال کولای شي چې زمونږ د هېواد په روانه کمزورۍ دولتي واکمنۍ کې د هېواد د ټولنې د ځینو اشخاصو او ډلو د ګټو د تامین لپاره د بې کیفیته تولیداتو د عرضې له لارې د ګټو لوړې کچې تر لاسه کړي.

د- د تولیداتو د بې کیفیتې له امله د بازار د ټولنې د ځینو اشخاصو او ډلو د ګټو د تامین لپاره د بې کیفیته تولیداتو د عرضې له لارې د ګټو لوړې کچې تر لاسه کړي.

د بېلګې په توګه داریانا افغان هوایي شرکت چې له ډېرې مودې راپدې خوا یې په هیواد کې فعالیت درلود او دهغه د ګټې یوینځوس سلنه (۵۱٪) دولتي عواید و ته تله .د اریانا افغان هوایي شرکت پدې وروستیو وختونو کې دځنو دولتي واکمنو د درغلیو په نتیجه کې دماتې او سقوط سره مخامخ شو .دغه درغلیو هدف دا و چې د دې شرکت تر سقوط وروسته به د اشرکت د افغانستان دولت له خوا د افغان په غاړه کې ور واچوي نور نو په دوی نه ده چې هرڅه ور باندې کېږي تو کېږي به .

زه باور لرم چې زمونږ مظلوم هېوادوال به د دغه بې کیفیته تعمیرونو د رانیولو لپاره نه یوازې نن په څو چنده خپلې پیسې د خارجي پانګوالو و جیبونو ته ور اچوي بلکه سبا یا بل سبا به د دغه کښته کیفیت لرونکو تعمیرونو په بیا ابادولو سره نورې پیسې هم کې زمونږ دخلکو یو یا دوه ډالره د بل هېواد د پانګوال جیب ته ولاړې شي او که لس ډالره؟؟ بل عامل د تعمیرونو د ستندرډ ابادولو لپاره په راتلونکي وخت د تضمین نشتوالی دی، څکه ټولې بهرنۍ او داخلي تعمیراتي موسسې فقط تر هغه وخته د خپلو ګټو په مقابل کې مسئولیت احساسوي، ترڅو چې دا تعمیر د پیسو په بدل کې هسې د یوه بېچاره افغان په غاړه کې ور واچوي نور نو په دوی نه ده چې هرڅه ور باندې کېږي تو کېږي به .

زه باور لرم چې زمونږ مظلوم هېوادوال به د دغه بې کیفیته تعمیرونو د رانیولو لپاره نه یوازې نن په څو چنده خپلې پیسې د خارجي پانګوالو و جیبونو ته ور اچوي بلکه سبا یا بل سبا به د دغه کښته کیفیت لرونکو تعمیرونو په بیا ابادولو سره نورې پیسې هم یا څلورو ډالرو په شاوخوا کې خرڅېږي او د بازار ټول د کانونه ور څخه تر څوکو پورې ډک دي بده خو داده چې لکه د انحصار په ډول په بازار کې ددې په بدل کې بل ډول دري ساکټه هم هېڅ نه موندل کېږي. دا یومثال وچې مایې یادونه وکړه. هر څه په همدې سطحه در واخلی.

نو ریښتیا هم چې دغه سوداګر زمونږ هېواد ته ددا ډول برېښنایي ساکټو په راوارېدولو سره د یوه ډالر په مقابل کې تر لس چنده ډېره ګټه کړېده. خوبالمقابل دغه برېښنایي ساکټو زمونږ د ولس په هېڅ درد نه دي خوړلې او پرته له استعمال څخه د کثافاتو په توکیو کې بهرون ته اچول شوي دي دا په دې معنې چې په حققت کې زمونږ هېواد والو هغه دري څلور ډالره چې ددې ساکټې په رانیولویې ورکړل، کثافاتو ته واچول .

بله دا چې داکترډاخبل وال صاحب پخپلو خبرو کې وویل چې پانګوالو ډېره سرمایه په تعمیراتي برخو کې اچولې ده. زه دا منم چې زیاترو بهرنیو پانګوالو به په تعمیراتي برخو کې پانګونه کړې وي خو دغه پانګه اچونکي هم د یوه ډالر په بدل کې د ډېرو ډالرو په تر لاسه کولو پسې را ختاوتلي دي له همدې کبله ده چې ټول هغه تعمیرونه چې ددې پانګوالو په واسطه د ګټو د تر لاسه کولو په منظور تر اوسه پورې اباد شویدي ډېرکښته کیفیت لري. هلته هېڅ دولتي سیستم وجود نه لري د مثال په توګه تاسو به اورېدلي وي چې یو څه وخت مخکې د جمهوریت روغتون یوه برخه چې د یوه چینایي شرکت په واسطه ودانه شوې وه ولوېده. او یا هم په خوشحال مینه کې شول، چې کېدای شي په یوه وړه زلزله کې مورې بیاهغه ناورین ته سترګې په لاره واوسو کوم چې ښځې او ماشومان به ددغه بلاګونو تر سیمتي خښتو لاندې خپل ژوند دلاسه ورکوي!

دا ټول ولې؟

ددې یو اصلي عامل د پانګوالو د وارداتي توکوپه کیفیت باندې د دولتي کنټرول نشتوالی او یا مخامخ درغلي ده دا پانګوال د یوه ډالر په بدل کې تر لسو ډالرو هم ډېره ګټه تر لاسه کوي .

خوزمونږ مسوولینو دا له یاده ایستلي ده چې پدغه ډول تورو ګټو کې د چا د جیب پیسې او شتمني د چا جیب ته ورځي؟؟

نو ایا دا به ښه وي چې د پانګوال د یوه ډالر په بدل کې د ټولو ګټو د تر لاسه کولو په منظور د ټولو ګټو د تر لاسه کولو په منظور د ټولو ګټو د تر لاسه کولو په منظور

# کابل: نړیوال بانک ۶۰ میلیونه ډالره مرسته وکړه

نړیوال بانک افغان دولت ته ۶۰ میلیونه ډالره ورکوي چې د ښارونو د اوبورسولو او کرنې په برخه کې یې ولګوي

په کابل کې ددې پیسو د ورکړې اعلان پروخت د ښاري پراختیا وزیر یوسف پښتون وویل په دې پیسو به د یو نیم میلیون وګړو لپاره نیم میلیونه وګړي اوسیږي چې د رسمي شمیرو ترمخه یې په سلو کې څه باندې ۸۰ د ځښاک پاکې اوبه نه لري

د نړیوال بانک له مرستو به ۴۰ میلیونه ډالره په یوې دري کلنې پروژې کې د ځښاک د اوبو په رسولو لګیږي

دهیواد د ښاري پراختیا وزیر یوسف پښتون وویل ددې پروژې په پای ته رسیدو سره به په هیواد کې ۵۰ په سلو کې خلک د ځښاک له پاکو اوبو څخه برخمن شي

«دالومړی پروژه ده چې ورته پوره ځیرنه شوي چې له پاکې اوبه برابرې شي دا وخت په هیواد کې په سلو کې ۱۸ خلک پاکو اوبو ته لاس رسی لري

د نړیوال بانک دغه ۶۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته ده چې ډیره برخه به یې په ښارونو کې د پاکو اوبو په رسولو لګیږي

په ښارونو کې شاوخوا شپږ ۳۰ په زېاتوښارونو کې به عملي شي باید په راتلونکو ۱۵ کلونو کې به لږ تر لږه ۸۰ فیصده خلکوته اوبه ورکول شي چې هغه مهال به د هیواد په ښارونو کې ۱۴ میلیونه وګړي ژوند کوي او د کلیوالو سیمو ۲۰ په سلو کې خلک باید پا کې اوبه ولري »

پښتون وایي دا ټولې پیسې به د ښاري پراختیا د ماسټر پلان له مخې ولګوي خو په ډاګه یې کړه چې په تېرو ۴ کلونو کې په هیواد کې ۲۰ میلیونه ډالره د اوبو رسول په وړو او بېرنیو پروژو کې پانګونه شوې ده

پښتون ومنله چې د کارکوونکو کاري ظرفیت دوی ته یوه ننګونه ده او له نړیوال بانک سره یې ژمنه کړې چې په دغې برخې کې به کار کوي

د نړیوال بانک د مرستو پاتې برخه چې ۲۰ میلیونه ډالره کیږي د کرنې په ډګر کې مصرفیږي

د کرنې وزارت نیت لري چې دغه پیسې د باغداری، مالداری او د خپلو کارکوونکو د کاري ظرفیت پر لوړولو ولګوي

چارواکي هیله من دي چې د دغې پروژې په بشپړولو به تر یوه ځایه د کلیوالي سیمو اوسیدونکي له بې وزلۍ راووځي

# رحیم الله سمندر: د مطبوعاتو نوی قانون ښایي په پارلمان کې ستونزې رامنځته کړي

**I.W.P.R**

د افغانستان د ټولنې هیڅ یوه برخه د مطبوعاتو په پرتله دومره له مقرراتو سره مخامخ نه ده، د طالبانو له رانسکوریدو را وروسته له ځلورو کلونو ځخه په زیاته موده کې په داسې یوې ټولنې کې د بیان د ازادۍ د تنظیم لپاره دري قانونه رامنځته کړای شول، چې له دوو لسیزو ځخه زیاته موده یې یوازې د ټوپک قانون پیژاند.

د هیواد د فرهنګ او ځوانانو د وزارت معین، سید اقا حسن سانچارکي په نوي قانون کې هغو احکامو ته ګوته ونیوله، چې د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون او باختر اژانس په ګډون به زیات شمیر دولتي خبري رسنیو ته پوره ازادي ورکړي.

نومورې وویل: « د پخوانیو قانونونو په پرتله په دې قانون کې داسې ټکي شته چې د بیان د ازادۍ په ګټه دي او د ژورنالیستانو کارونه اسانه کوي. »

تیر کال، د ارتداد په تور د یوې مجلې د چلوونکي د بندي کیدو او د پارلمان په اند دیو تلویزیون پرمخ د غیر اسلامي ننداره د ځرګندیدا په ګډون، مطبوعات له یو شمیر وتلو پیښو سره مخامخ شوی وو، د اطلاعاتو او کلتور وزیر پارلمان ته وغوښتل شو، تر ځو په مطبوعاتو باندې د خپل نرم کنترول په اړه د استازو پوښتنو ته ځوابونه وایي.

سانچارکي په دې اړه، چې دا نوی قانون به د ورته پیښو په اړه په راتلونکي کې څه راز چلن کوي، څه ونه ویل.

خبره تر دې کچې په دې پورې تړلې ده، چې د پارلمان استازي به ددې قانون د تصویب پر مهال څه ډول غبرګون وښیي. دا قانون به پارلمان ته وړاندې کیږي دا بهیر افغانستان ته نوی بریښي د تیر کال په دسمبر کې د پارلمان تر جوړیدو دمخه ولسمشر، حامد کرزي لږ ډیر د فرمانونو له لارې کارونه پر مخ وړل. د قانون د پلي کولو لپاره د هغه یوازې یو لاسلیک بس و.

اوس به اجرایوي ځواک (حکومت) د قانون د جوړوونکي ارګان (پارلمان) سره زیاتره د راکړې ورکړې له لارې پرمخ ځي.

د افغانستان د ازادو ژورنالیستانو د ټولنې مشر، رحیم الله سمندر دا ومنله چې دا قانون ښایي په پارلمان کې ستونزې رامنځته کړي.

هغه وویل: « دا رښتیا ده چې د پارلمان نیمایي غړي مجاهدین او بنسټ پالان دي، خو مورږ به هغوی وهڅوو، داسې بدلون رانه ولي، چې قانون نور هم ناوړه شي».

سمندر وویل، په عمومي توګه دا ډیر ښه قانون دی او د مطبوعاتو په ازادۍ کې به زیات پرمختګ راولي.

هغه وویل: « یو څه ستونزې شته د قانون د تشریح لپاره کوم لارښود نه شته خو دا ډیرې کوچنۍ ستونزې دي او کیدای شي، په راتلونکي کې له منځه لاړې شي.»

د پارلمان غړي وایي، چې هغوی ته تر اوسه دا قانون نه دی رسیدلای، د نویو قوانینو د بیا کتنې د کمیسیون غړی، راحلي سلیم وویل چې تر اوسه دا سند تر سترګو شوی نه دی.

د افغان تلویزیون خاوند او مشر احمد شاه افغانزی نوی قانون نا دموکراتیکه بولي.

هغه وویل: « زه په دې قانون کې داسې څه نه ګورم، چې تر پخوانې قانون دی ښه وي په یو څو ځایونو کې خو لا تر هغه ناوړه دی.»

د مطبوعاتو په نوي کمیسیون کې به دوه تنه د پارلمان غړي، د مخابراتو او د فرهنګ او ځوانانو د وزارتونو او سترې محکمې یو، یو ساتازې ګډون ولري د نورو دنډو تر څنګ به نومورې کمیسیون د بریښنایي رسنیو لپاره د فریکونسیو د ویش او د مطبوعاتو له قانون څخه د سرغړونې څارنه کوي. د سانچارکي د وینا له مخې د نوي قانون له مخې کمیسیون د مطبوعاتو د تګلارو د جوړولو واک نه لري پرځای یې د هغه دنده داده تر څو د ژورنالیستانو له حقونو څخه دفاع وکړي او خپلو استباهګانو ته د هغوی پام واړوي.

هغه وویل: « کمیسیون د رسنیو د ستونزو لپاره د حل د لارو د لټولو دنده لري، یوازې په تخنیکي توګه د رسنیو څارنه کوي د رسنیو په تګلارو کې لاس نه وهي.»

سیاسي څېړونکي او د افغان ملي جریدې مسوول چلوونکي، محمد حسن ولسمل وویل که چیرته قانون پلي نه شي د هغه ان ډیرې ښې برخې هم په درد نه خوي.

هغه وویل: « هر قانون ښې او خرابې برخې لري ډیره مهمه خبره د هغه پلي کول دي په افغانستان کې په تیرو څلورو کلونو کې ان یو قانون هم نه دي پلی شوی.»

هغه زیاته کړه نوی قانون په تیره بیا په هغې کې د پارلمان د رابنکیلولو په ګډون یو څه ستونزې رامنځته کوي.

# وضع دشوار امنیتی و بحران اعتماد...

**در طی چار سال به دلیل اینکه مردم مالک حقوق خود نشده اند و دولت مامورین رشوه خوار و استفاده جو را به جان مردم رها کرده تا خون شانرا بمکند، چگونه میتوان اعتماد سازی کردو فاصله میان مردم و دولت را از بین برد؟**

**با اینهمه مسوولین دولت از همین مامورین فاسد ادارات به شدت حمایه و پشتیبانی می کنند و هیچکسی را به پنجهء قانون نمی سپارند.**

**با چنین وضعی چگونه میتوان امنیت کشور را تأمین کرد و چگونه میتوان سیاستهای دولت را تأیید کرد و چگونه میتوان برای امنیت و ثبات کشور امیدوار بود؟**

**جای تعجب است که هر روز دهها پولیس و افراد اردوی ملی تلف میشوند و مسلماً شمار دیگر ترک وظیفه خواهند کرد؟**

**آیا نمیتوان این پرسش را مطرح ساخت که همان عناصری که در ائتلاف پولیس و اردو دست دارند، حالا پیشنهاد ملیشه سازی را عنوان می کنند و بر دولت تحمیل می کنند؟**

**اکنون اگر دولت بخواهد از نیروهای طرد شده از نظام کشور و یا از 'مکلفیت عسکری' استفاده ببرد؟ آیا همان اعتماد لازم وجود دارد که مردم آنرا لبیک بگویند؟**

**به نظر میرسد که وضع دشوار امنیتی موجود و بحران فزاینده اعتماد بین دولت و مردم، پالیسی سازان را بران داشته تا سیاست ملیشه سازی در پیش بگیرند، در حالیکه این تصور وجود دارد که با ملیشه امنیت تأمین شده نمیتواند!**

# علي احمد جلالي...

د نومورې په وینا طالب اورپکي او ترهګر په هیواد کې ډیر کم ملاتړي له ځان سره لري

جلالي پدې باوري دی چې د طالبانو او ترهګرو سیاسي لید لوري د هیواد د خلکو لپاره د منلو وړ نه دی. هغه وایي که خدای مه کړه د هیواد اوسنی واکمنې راوپرزوي نو لاهل به یې طالبان نه بلکې دخلکو پر ژوندانه د پرمختګ او بدلون نه راتګ دی. جلالي ولسمشر حامد کرزی په خپلو هڅو کې یو رښتیني او په هیواد کې مین کس بللی دی چې هغه څه کوي تر څو په هیواد کې ستونزو ته اوړه ورکړي خو اندیښنه یې ښودلې چې کرزی د یو پیاوړي سیاسي تیم له مرستې څخه بې برخې دی. جلالي کال وړاندې له خپلې دندې څخه په خپله خوښه استعفا وکړه. د هغه له استعفا وروسته داسې انګازې خپرې شوې چې ګواکې نومورې غوښتل په هیواد کې د مخدره توکو د یو شمیر قاچاق وړونکو نومونه په ډاګه کړي خو چارواکو ورسره نه وه منلي.

# در انفجار...

اما رئیس ماین پاکی هیلوترست در بغلان میگوید که آنان ساجات ماین گذاری شده را علامه گذاری نموده اند و نیز مردم را از رفتن به آنجا ها منع کرده اند و اما مردم خود بی اعتنایی میکنند، وی افزود که در افغانستان بیش از ۱۲ میلیون ماین وجود داشت، اما کنون بیش از ۷ میلیون ماین باقی مانده است که پاک سازی آن از سوی نهادهای ماین پاکی جریان دارد.

# رهبران ارشد...

حمله روز جمعه در یک سلسله زد وخورد ها بین قوای امنیتی و تندروان، تازه ترین آن میباشد. مقامات نظامی امریکایی گفتند حدود ۴۰۰ نفر که تعداد زیاد آنها تندروان بودند از اواسط ما می بدین سو کشته شده اند.

# ولسي جرګې پرونې...

او د هغوی د پلانونو نقشې پدغه هیواد کې برابروي. ددې تر څنګ د ولسي جرګې یو شمیر استازو دولت پدې تورن کړ چې دولت پخپله د هغه چا ملاتړي کوي چې د نا امنیو لامل ګرځي.

پدغه برخه کې یې د یو شمیر والیانو امنیي قوماندانانو او د هغوی د لاسوهنې څخه یې یادونه وکړه چې د دولت له خوا یې ملاتړ کیږي، ولسي جرګې وروسته له هغه د امنیت په اړه خبرې وکړې چې د هیواد په سهیلي سیمو کې په لس ګونه ملکي وګړي او د دولت مخالفین ائتلافي ځواکونو د بمباریو له امله وژل شوي دي.

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
اراده
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar ( Mobil phone :070222726)
eradadaily@hotmail.com
eradadaily@yahoo.com